ژباړه : رحمت آریا

۲۰۱۱ ز کال د اپریل ۳۰

افغانستان : څلور آس سپاره

Exxon Mobil, Chevron, Texas BP Amoco, Royal Dutch Shell

د مسلمانانو پر خاورو او طبیعي سرچینو باندې د لوېدیزې نړۍ د بَرواکۍ په تړاو یو بشپړ مذهبي قیاس
[پیسې، د سیاست مورنۍ شېدې دي] [1]

لیکوال : بروس ریچاردسن

د « څلورو آس سپرو» اصطلاح د انجیل د آخرت پېژندنې په برخه کې راغلې چې ډېرې وختونه یې ژورنالیستان او ځېرک سیاسي شنونکو د پرتلې دداسې یوې بېلګې په توګه کارَوي چې د مانا له اړخه د بشپړ کټ مټ توب کچې ته نېږدې کېږي؛ دوی غواړي څرګنده کړي چې عیسوي هېوادونه د « ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې » د پلمې تر نامه لاندې د اسلامي هېوادونو د طبیعي سرچینو د را ایستلو په موخه پر هغوی برېد کوي.

ددې لپاره چې د انجیل ددغې اصطلاح او په معاصر وخت کې د افغانستان او د نړۍ د تېلو د تولېدوونکو هېوادونو او په سر چینو د بډایو سیمو په اړوند د « څلور آس سپرو» د کارونې په پرتله ښېز مشروعیت پوه شوو، راځئ په ویکیپیډیا کې ددغې اصطلاح تعریف ولولو، دغه وبپانه نوموړې اصطلاح په لندون داسې تعریفوي :

« دا اصطلاح د Revelation of Jesus Christ to Saint John the Evangelist د کتاب په ۶-۱۸ کې راغلې ده. د یوحنا د مکاشفاتو د کتاب د څلورو آس سپرو اصطلاح د نوی عصر د انجیل د وروستي کتاب په یوې برخې کې ویل شوې ده، دا څېرکی وایي چې د خدای (ج) په ښي لاس کې یو طومار دی چې ۷ مُـهرونه وربانديې لګول شوي دي او مسیحي عیسی « ع » لومړي څلور مهرونه خلاصوي ؛ د څلورم مهر په خلاصولو مخې ته یې پر څلورونو آسونو سپاره څلور څاروي درېږي او څلور واړه آسونه سپین، سور، تور او پیکه ژیړ بخون رنګونو لري؛ دا څلور واړه یو په بل پسې د سوبې، جګړې، وچکالۍ او مرګ سمبولونه دي. دا په حقیقت کې د قیامت او بیا ژوندي کېدلو په اړوند د عیسوي لېد لوري یوه بېلګه ده او څلور واړه آس سپاره د قیامت د ورځې د بیرغ لرونکو په توګه له ازله ټاکل شوي دي.»

د څلورو آس سپرو اصطلاح په سپورتي لوبو، فلمونو، تلویزیونونو، موسیقي او ویډیو ګیمونو video games کې کارَول کېږي چې یوه ښه بېلګه یې د فوتبال په لوبه کې د برېد د کرښې شا ته د څلورو مدافعینو په اړه اړوند ویل شوې او د فوټبال د لوبې د سیالیو په لړ کې د [Notre Dame] د پوهنتون د لومړۍ بریالۍ ډلې استازیتوب یې کاوه. پورتنۍ اصطلاح د یوې وسیلې په توګه په انجیل کې د پېچلو ریفرنسونو په توګه کارَول کېږي او له دې لارې غواړي څرګنده کړي چې د قیامت او د ټولو دنیوي چارو په اړوند عیسوي ارزښتونه له ذاتي او تقدسي اړخونو تر نورو ټولو ارزښتونو لوړ او برتره دي.

د « ترهګرۍ پر وړاندې » له جګړې څخه نېږدې یوه لسیزه تېرېږي، امریکایي مؤکلنیو او اروپایي هېوادونو د امریکا تش په نامه د « عدل جګړې » د جعلي ادعاګانو پر وړاندې خپل مخالفت را څرګند کړ مګر د همدې مودې په اوږدو کې امریکایي مشرانو لکه روحانیونو، رسنیو او د کانګرس غړو په ټولیز ډول پر دغو ګوتنیونو د سړو اوبو د اچولو په موخه په مذهبي بنسټ ولاړو مناجاتو او ادعیو ته لاس واچاوه. هر کله چې له بوش څخه د افغانستان او عراق د جګړو د قانونیت او مشروعیت په اړه پوښتنه شوې نو د تکزاس نه پښېمانه کېدونکي تیل والا کبرجن او خانتما هېواد – مشر جورج ډبلیو بوش په څو څو ځله په ځواب کې ویلي : په سپیڅلي وجدان اعلان کوم : « خدایتعالی ما ته ویلي چې څه وکړم». بله بېلګه یې پر افغانستان باندې د امریکا د چټک برید په شپو ورځو کې دینپاله طالبان په څو څو ځله د « مذهبي اورپکو» په نومونو یاد شول؛ دوی به ویل چې طالبان غواړي پر ټولې بې خبرې نړۍ باندې شرعي قانون خپور کړي. په همدې لړ کې اوس څرګنده شوې هغه کسان چې د امریکا د نېواک یا په بله وینا د ګلوبَـلایزشن پر وړاندې مقاومت کوي ټول یې د کانګرس د غړو، د امریکا د هېواد مشر او رسنیو له پلوه له یوې مخې یا د مذهبي اورپکو او یا د ترهګرو په نومونو نومول شوي دي.

[1] J. Unruh

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د عملیاتو په هر تیاتر کې چې د امریکا پوځ ښکېل دی هغه ېې د « یاغیتوب – ضد » اصطلاح بللې ده. خو د تجربې پر بنسټ په زباد رسېدلې چې د نوموړي تیاتر هره برخه او هر یو ېې په هغو هېوادونو کې سمبال شوی چې ډېرې اوسېدونکې ېې مسلمانان دي؛ ددغه تیاتر هره برخه په هغو ځایونو کې پلې کېږي چې په اوسني وخت کې د تیلو او ګازو په طبیعي سرچېنو بډای دي. ددې تر څنګ هغه اقتصاد چې د تیلو په لېږد او یا په انرژۍ پورې د تړلو سرچېنو پر بنسټ غوړېږي، په هغه کې بهرنیو اسعارو ته د یوه بر لاسي متعادل په سترګه کتل کېږي او شک نه شته چې د بهرنیو اسعارو تبادله په خپله د ملي خالص عاید په لوړلو او د کورني تولید د رغښت په لاره کې یو پیاوړی مرستندویه توکی دی. د ۲۰۰۱ ز کال دوبی وو چې د تورکمنستان – افغانستان او پاکستان له لارې د انرژۍ د نللېکې د غځولو د انحصاري حق پر سر خبرې اترې روانې وې، په همدغه وخت کې یونوکال « اوس د څلورو آس سپرو له منځه د یوه آس سپاره Chevron/Texaco په لاس کې ده» پوه شوه چې افغانستان ېې نور له لاسه تلونکی دی او لوبه ورڅخه د ارجنتاین د تیلو د پلټنې نړیواله کمپنۍ بریداس ګټي، همدغه لامل د امریکا د حکومت رسمي چارواکي را وپارول چې طالبان د « بمبونو د باران» په ګواښ وویروي؛ دا ځکه چې طالبانو د امریکا د یونوکال د ستر شرکت انحصاري حق رد کړی وو. له همدغه ګواښ وروسته ول چې افغانستان په رښتیا د بمبونو تر باران لاندې ونېول شو او پایله ېې په اوسني لس کلن نېواک واوښتله. په هغه وخت کې افغانستان ته د انرژۍ د ستر تولېدوونکي او بنسټېز هېواد په سترګه نه کتل کېدل. مګر افغانستان د کسپین په کاسې او په طبیعي سرچېنو بډایو، د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د تولید شویو تیلو د لېږد لپاره یو بنسټېز دالان دی، له دې امله افغانستان کولای شي د امریکا د تیلو د سترو کمپینو نه مړېدونکې تنده ورماته کړي او دا افغانستان دی چې په دې لاره کې د ایران او روسېې د سیالیو د ملا ستن ورماتوي ځکه له تأریخي اړخه ایران او روسیه دواړه د تېلو د لېږد په مارکیټ کې د برلاسۍ د موندلو په لټه کې دي او په دودېز ډول دا ټولې سېمې هره یوه په خپل وار د خپلو سیاسي او اقتصادي اغېزو کړۍ او چاپېریال بولي. ددې تر څنګ پنتاګون د خپل اوږد مهالي پلان د یوې برخې په توګه په افغانستان کې د امریکا پوځي حضور ته په اړینه سترګه ګوري چې له دې لارې د روسیې، ایران او د نوي په پښو درېدلی په ځان غره چین له غاړو ستراتېژېکه کړۍ راتاو کړي.

د امریکا دولت – سیوری [2] :

د شته وو لاسوندونو د دروندوالي پربنسټ نور د شک ځای نه پاتې کېږي چې د افغانستان او عراق د جګړو پر لارې باندې د سترو تیلو د لوبې غوړ ځخېدلي دي. پر عراق باندې د ډله ېېزو وژنو د وسلو د لرلو تور، له القاعدې سره تړاو او نورې ډنډورې چې د بوش او د اوباما د دواړو ادارو له ستونیو د راډیو او ټلویزیونو له لارې په څو ژبو خبرې شوې ټول ېې درواغ او بې بنسټه وختل. شک نه شته چې دا د « یرغلګرې پانګوالی» له مخې نقاب لېرې کوي. د افغانستان پر وړاندې شوې ادعا، له سر تر پایه نوره د اعتبار وړ نه ده، اوس په زباد رسېدلې چې دا ادعا د جعل، پلمو، موخو او بربنډو درواغو پر هرم ولاړه ادعا وه. تش په نامه شخصي قراردادیانو چې هر یو ېې د سترو تیلو د لوبې استازی وو، د هېواد په شمال کې څو تنو جنګسالارانو ته ، هر یوه ته ۲۰۰.۰۰۰ « دوه سوه زره امریکایي ډالر» د بډو په توګه ورکړل تر څو د رژیم د بدلون د هڅو په لړ کې د شمالي ټلوالۍ د سرتیرو د مشرۍ په کولو د طالبانو د حکومت پر وړاندې د ځمکني لښکر په کتار کې ودریږي، دا د شمالي ټلوالې د مشرتابه هغه جنګسالاران دي چې له دوی څخه د بوش اداري هغه مهال خپل اړولی وو چې دوی هم د افغانستان له لارې د وړاندېز شوې غځېدونکې نللېکې د جوړېدلو په اړوند د ارجنتاین د تیل اېستلو سترې کمپنۍ ته زړه ښه کړی وو.

د وزبک قصاب رشید دوستم په ګډون د اپیومو د قاچاق د څو تنو جنګسالارانو په پیردلو باندې له ۷ میلیونه ډالرو زیات لګښت راغی. تر ټولو بوږنوونکې پوښتنه دا ده چې دغه شخصي قراردادیان څنګه په حکومتي چارو کې راښکیل کېږي او ولې ددوی له لارې د جګړې لګښت تر سره کېږي؟ د خبرې د جړې د پوهېدو لپاره یوه بېلګه په پام کې ونیسئ چې د تیلو سترو کمپنو په ۲۰۱۰ ز کال کې د کانګرس غړو ته یو اعشاریه اوه میلیونه ډالره بسپنه ورکړه. ددې تر څنګ ، پرته له دې چې د افغانستان په چارو کې د پوځي لاسوهنې د توجیه او د هغه د نېواک لپاره کوم بل دلیل او شننه وړاندې کړو، تاسو د عملیاتو د تیاتر هره ډډه په پام کې ونیسئ او وګورئ چې ددغه تیاتر په کړۍ کې راتاو او ښکېل هېوادونه هر یو ېې په خپلو لمنو کې د تیلو ستر سیلابونه لري. موږ د ځواک په دالانونو کې وېنو چې د لوړو پوستونو په استخدام کې د هغو کسانو په حق کې د لومړیتوب / ارجحیت پالیسي پلې کېږي چې پخوا د تیلو په سوداګرۍ کې د تیلو د شرکتو د رئیسانو په توګه ښکېل ول.

[2] **Shadow Government**

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د بوش د اداري د کلونو پر مهال مرستیال هېواد مشر دیک چېني ته د هالیبرتون کېمنۍ څلوېښت مېلونه ډالره ورکړل، هالیبرتون د تېلو هغه شرکت دی چې د نړۍ په هر ګوټ کې بې ځانته د پټو عملیاتو د تر سره کولو او په جنایت کې د ښکېلوالي غټ کرغېړن نوم ګټلی دی. د دولت – سیوري په یوې بلې بېلګې کې اوس بر بنده شوې چې د تېلو اېستلو یوې امریکایي کمپنۍ افغانان په آزربائیجان کې د جګړې لپاره استخدام کړي دي. ددې کمپنۍ پر وړاندې تر اوسه پورې د جرم کوم اعلان نه دی شوی.

د افغان، ایراني او تورکي سرچینو پر بنسټ حامد کرزی له طالبانو سره د خبرو اترو پر مهال د یونوکال لوړ پوړی سلاکار وو. همدا شان حامد کرزی په افغانستان کې د سي آی اې د یوې لسېزې جګړې په لړ کې د سي آی اې ارتباطي سړی وو.له بلې خوا د واشنګتن د دساتیرو پلې کوونکی زلمي خلیلزاد او د هغه د Texas oil ملګرو او له اسرارو ډک د [Ritchie] ورونو ټولو د سترو تیلو «یونوکال» لپاره کار کړی دی، دوی ټولو له طالبانو سره د خبرو اترو له ناکامه پړاو مخکې او له هغه وروسته د (TAP) د وړاندېز شوې نللېکې د جوړېدلو د انحصاري حق د تر لاسه کولو په لاره کې خولې توی کړي او ډېرې هڅې یې کړې دي.

که وغواړو د نړۍ د هرګوټ په شخړو کې د امریکا د پښې ښکېلوالی له نېږدې وګورو نو هېڅکله به ونه شو کولای د امریکا پرتمین درواغ، له ځانه جوړ شوي مذهبي مناجات او فتوی ګانې، د ترهګرۍ بې بنسټه تورونه، د ډله ېیزو وژنو وسلې او د القاعدې په نامه له بې قاعدې بنسټ سره تړاو یوې خواته لېرې کېږدو او نه شو کولای د تیلو د سترو کېمنیو د غوړو ګوتو خاپونه له پامه وغورځوو چې ټول یې د امریکا د دولت - سیوري د سوبې، جګړې ، وچکالۍ او مرګ سمبولونه دي.

بروس ریچاردسن

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ